عمومي اسامبله
د امنیت شورا

خپرونه: عمومي
۱۷ جون ۲۰۲۰

**عمومي اسامبله**
**څلور اویایمه ناسته**
**د اجنډا ۳۶ ماده**
**د افغانستان وضعیت**

**د امنیت شورا**
**پنځه اویایم کال**

## د افغانستان وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت یې اغیزې

### د عمومي منشي راپور

### ۱. پیژندنه

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پریکړه لیک او د امنیت شورا د ۲۴۸۹ (۲۰۱۹) پریکړه لیک په تعقیب، په کوم کې چې له عمومي منشي څخه غوښتل شوي و، چې په هرو دریو میاشتو کې د افغانستان د پرمختګونو او تحولاتو په اړه راپو ر ورکړي، وړاندې کیږي.

۲. د ۲۰۲۰ کال د مارچ پر ۱۷ نېټه زما د پخواني راپور (A/74/753-S/2020/210) له خپریدو راهیسې، دغه راپور د سیاسي، بشري، پرمختیایي او بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

### ۲. اړوند پرمختګونه

۳. ولسمشر اشرف غني او پخواني اجرائیه رییس او د ولسمشرۍ نوماند عبد الله د مۍ پر ۱۷ نېټه یوې هوکړې ته ورسیدل، چې پر نږدې یوې درې میاشتنۍ سیاسي کشالې بر لاسي شول او نوي حکومت د جوړولو لپاره یې لار هواره کړه. د افغانستان د اسلامي جمهوریت په استازیتوب د مذاکرتي ټیم د جوړولو او د بندیانو د خوشې کولو له لارې د باور جوړونې سره د سولې پروسې لپاره تیاریو دوام درلود، خو بریدونه روان وو او طالبانو د اوربند غوښتنې رد کړې. د راپور شویو وسله والو نښتو شمیر په فبروري میاشت کې په ټول هیواد کې په تاوتریخوالي کې تر یوه اونۍ وروسته رامنځ ته شویو جریاناتو ته بیرته وګرځید. افغانستان ته د سولې راوستلو په اړه د امریکا د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د تړون او افغانستان ته د سولې راوستلو په اړه د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د امریکا د متحده ایالاتو د ګډې اعلامیې پر بنسټ چې دواړه د فبروري پر ۲۹ نېټه لاسلیک شول، متحده ایالاتو د جولای تر ۱۳ نېټې پورې له ۱۳۰۰۰ څخه ۸۶۰۰ امریکایي ځواکونو د شمیر د راکمولو لپاره د خپلو اقداماتو اعلان وکړ. د جګړې اړوند رواني ببځایه کیدنې، د خلکو د راستنیدنې، یې وزلۍ او د خوړو نا خوندیتوب ته په کتو، د کورونا وایرس د ناروغۍ (کوویډ-۱۹) خپریدو بشري وضعیت ته جدي اندیښنې ور اضافه کړې. د افغانستان د ۲۰۲۰ کال د ژمنو د وزیرانو د سرمشریزې لپاره پلان جوړونې دوام درلود.

### الف. سیاسي تحولات

۴. د مارچ پر ۹ نېټه، ښاغلي غني د دویم ځل ولسمشر کیدو لپاره د لوړې مراسم ترسره کړل. د هغه د پرانیستې په وینا کې، هغه ملي یووالي، د یوه ټول شموله حکومت جوړونې او د سولې او اقتصادي ودې غښتلې کولو ته یو ځل بیا د

خپلو ژمنو یادونه وکړه. د ټاکنو پایلې له درغلیو ډکې او نا قانونه ګڼلو سره ښاغلي عبد الله هم په ورته ورځ د لوړې مراسم ترسره کړل. د مارچ پر ۱۱ نېټه، ښاغلي غني د یوه فرمان په صادرولو سره د اجرائیه ریاست دفتر لغوه کړ. د واک د شریکولو پر سر له مخالفتونو سره او د یوه حکومت د جوړولو په اړه د ښاغلي غني او ښاغلي عبد الله ترمنځ مذاکراتو له دوو میاشتو زیات دوام درلود.

۵. افغان سیاسي مشران د دغې سیاسي کشالې د حل لپاره د منځګړیتوب غوښتنه وکړه، څرنګه چې د مدني ټولنې فعالینو، مشرانو او قومي مخورو له دواړو خواوو د کووید-۱۹ وبا او بین الافغاني مذاکراتو ته په رسیدګۍ کې د شخصي ګټو پر ځای د ملي ګټو د پاللو غوښتنه وکړه. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو د مارچ پر ۲۳ نېټه له کابل څخه لیدنه وکړه څو دواړه مشران د سیاسي ناورین حل او د سولې هڅو په لور خوځښت ته وهڅوي. له کابل څخه د بیرته تګ پر مهال، متحده ایالاتو یوه اعلامیه خپره کړه چې د یوه ټول شموله حکومت د جوړولو پر سر د دواړو مشرانو پر خولا کې د پاتې راتلو له امله یې خواشیني ښکاره کوله او په ۲۰۲۰ کال یې د ۱ بیلیون امریکایي ډالرو مرستې د بندولو او که چیرې سیاسي کړکیچ په همدې ډول نا حل پاتې شي په ۲۰۲۱ کې د ۱ بیلیون نورو امریکایي ډالرو د مرستې د بندلو اعلان وکړ. د دغه اعلان په غبرګون کې ښاغلي غني افغان وګړو ته د دې ډاډ ورکړ چې د مرستو راکمول به د خلکو د ژوند کلیدي سکتورونه اغیزمن نه کړي او په ډاګه یې کړه چې متحده ایالات ښایي خپله پریکړه بیرته بدله کړي. دغه اوږد مهالي کړکیچ داخلي او بهرني غبرګونونه راپاروي. د مۍ پر لومړۍ نېټه، د اروپایي اتحادیې ځانګړي استازي یو ځل بیا د سیاسي اختلافاتو د پای ته رسولو اړتیا یادونه وکړه او ټینګار یې وکړ چې په دې برخه کې د پرمختګ نشتون ښایي د امنیتي او پراختیایي برخو راتلونکې تمویل اغیزمن کړي.

۶. د ښاغلي غني د لوړې مراسمو وروسته، هغه د یو شمیر کلیدي ګمارونو اعلان وکړ لکه حنیف اتمر د بهرنیو چارو د سرپرست وزیر، عبد الهادي ارغندیوال د مالیې وزارت د سرپرست په څیر، احمد ضا سراج د ملي امنیت د ریاست د عمومي رییس، شاکر کارګر د ولسمشر د دفتر د عمومي رییس، فاضل فضلي د ولسمشر د اداري چارو د دفتر د رییس او محمد یوسف غضنفر د ولسمشر د اقتصاد او تجارت د ودې او د بې وزلۍ د کمولو په چارو کې د ځانګړي استازي په څیر. هغه همدارنګه پنځه والیان هم وګمارل. د اپریل پر ۴ نېټه، پخواني ولسمشر حامد کرزي، عبد الرب رسول سیاف، او د پخواني ولسمشر لومړي مرستیال یونس قانوني او کریم خلیلي له ښاغلي وغوښتل چې له عبد الله سره یوې سیاسي هوکړې ته تر رسیدو ګمارنې وځنډوي. د مۍ پر ۱۳ نېټه ښاغلي غني هر یو ضیاء الحق امرخیل په پارلماني چارو کې او غلام بهاؤ الدین جیلاني طبیعي پیښو ته د رسیدګۍ په چارو کې د دولت وزیرانو په څیر وګمارل.

۷. د مارچ پر ۲۶ نېټه، د سولې په چارو کې د دولت وزارت د افغانستان د اسلامي جمهوریت مذاکرتي ټیم اعلان کړ. د دغه ټیم مشري د ملي امنیت د ریاست د پخواني رییس معصوم ستانکزي له خوا کیږي، دغه ۲۱ کسیز ټیم د مختلفو سیاسي او ټولنیزو قشرونو له استازو جوړ دي چې څلور ښځې هم په کې شاملې دي. د ټیم تشکیل د ښاغلي عبد الله په ګډون د یو شمیر افغان سیاسي مشرانو او دغه راز د نړیوالو او سیمه ییزو شریکانو له خوا هر کلی وشو، سره له دې چې طالبانو په دې اړه پوښتنې را ولاړې کړي چې آیا دغه ټیم په رښتیني ډول تمثیلوونکي او ټول شموله دی.

۸. د سولې په چارو کې د دولت وزارت او مذاکراتي ټیم د مذاکراتو لپاره چمتوالی پیل کړ. د اپریل په نیمه یې کې، دغه ټیم د اړوند موضوعګانو په اړه څلور کمیټې جوړې کړي او د خپلو اړوندو حوزو او ګروپونو سره یې لیدنې پیل کړې. د اپریل پر ۱۳ نېټه، د دوو ارګانونو استازو د ولسي جرګې له ۱۱ ښځینه غړو سره ولیدل څو د حقونو او ارزښتونو د ساتنې او د سولې په پروسه کې د ښځو د موثر ګډون په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د اپریل پر ۲۰ او ۲۱ نېټه، د سولې په چارو کې د دولت وزیر عبد السلام رحیمي د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون، د مذاکراتي ټیم له غړو او د جګړې د قربانیانو له یوه ګروپ سره ولیدل، له چا سره چې هغه د سولې په پروسه کې د دخیلولو ژمنه کړې وه. د اپریل پر ۲۶ نېټه، ښاغلي رحیمي د سولې د چارو د همغږۍ له عالي کمیټې سره دویمه ناسته ترسره کړه، څو د سولې پروسې لپاره د دولت ټوله تګلار همغږې کړي.

۹. د کوویډ-۱۹ په خلاف د مبارزې په ملاتړ کې د نړیوال اوربند لپاره د عمومي منشي د غوښتنې سربېره، ګڼ شمیر نورو افغان فعالینو او نړیوالو شریکبانو په افغانستان کې د اوربند غوښتنه وکړه څو د دغې وبا د بشري غبرګون لپاره زمینه برابره کړي. د اپریل پر ۲۳ نېټه، له روژې یوه ورځ مخکې ولسمشر غني له طالبانو غوښتنه وکړه چې د بشري اوربند لپاره غاړه کېږدي. د اپریل پر ۲۴ نېټه، د شمالي انتلانتیک د تړون سازمان (ناټو) د یوې اعلامیې په خپرولو سره پر دې ټینګار کاوه چې د طالبانو له خوا د تاوتریخوالي کچه د منلو وړ نه ده او پر طالبانو یې غږ کاوه چې له دولت سره بې له کومه ځنډه مذاکراتو ته داخل شي او دواړه خواوې دې د بندیانو او توقیفیانو د خوشې کولو بهیر کړندي کړي او بشري اوربند دې اعلان کړي. همدارنګه د اپریل پر ۲۴ نېټه، د اسلامي همکاریو سازمان له ښکیلو خواوو یو ځل بیا د دې غوښتنه وکړه چې د روژې میاشتې په اوږدو د بېړني او اوږد مهالي اوربند لپاره په ګډه وکړي. د افغان دیني علماؤو تر څنګ د ښځو زیات شمیر فعالینو او عامه ادارو پر افغان سیاسي مشرانو او د جګړې پر ښکیلو خواوو غږ وکړ چې له خپلو اختلافاتو تېر شي او په ګډه کار وکړي څو کوویډ-۱۹ وبا او د خوړو پیشبیني شوي کمښت ته رسیدګي وکړي. د اپریل پر ۲۶ نېټه، د یوې اعلامیې په خپرولو سره د اوربند یا د بشري مرستو د رسولو لپاره د جګړې د درلو غوښتنې رد کړې، او ادعا یې کوله چې متحده ایالات او افغان دولت د فبروري د ۲۹ نېټې افغانستان ته د سولې راوستلو د تړون له مخې خپلو مکلفیتونو ته نه وو ژمن، په تېره بیا د ۵۰۰۰ بندیانو خوشې کیدو ته، او ټینګار یې کاوه چې د اوربند په اړه به د بین الافغاني مذاکراتو تر پیل پورې

۱۰. د مۍ پر ۱۷ نېټه، ښاغلي غني او ښاغلي عبد الله د یوې موافقې په لاسلیک کولو سره سیاسي کشاله پای ته ورسوله. دغه موافقه د وزیرانو او والیانو د ګمارنې، د حکومت د عالي شورا او د سولې او پخلاینې (مصالحې) د عالي شورا د رامنځ ته کولو ؛ د پام وړ ټاکنیزو اصلاحاتو؛ او د ولسمشر پخواني لومړي مرستیال عبد الرشید دوستم د مارشالۍ رتبې او د لوی درستیز له مرستیالۍ سره د تړلو صلاحیتونو د ورکولو په ګډون د ښاغلي عبد الله لپاره په حکومت کې ۵۰ سلنه ونډه ځانګړې کوي. د حکومت عالي شورا له سیاسي مشرانو او ملي شخصیتونو جوړه ده او د سیاسي اجماع پر رامنځ ته کولو به متمرکزه وي او د ملي موضوعاتو په اړه به ولسمشر ته سلا مشورې ورکوي. د مصالحې عالي شورا کومه به چې د ښاغلي عبد الله تر مشرتابه لاندې خپلې مخ ته وړي، د سولې پروسې د تنظیم او مدیریت لپاره ساختار رامنځ ته کوي. د تړون د څارنې او د شخړو د منځګړیتوب لپاره به د سیاسي مشرانو یو شپږ کسیز پلاوي تشکیل شي. د مۍ پر ۱۸ او ۱۹ نېټه، ولسمشر غني دوه نوري ګمارنې ترسره کړې، آغلې حسینه صافي یې د ښځو چارو د وزیرې او نور الحق علومي د بېي حکومتولۍ په چارو کې د ځانګړي استازي په توګه وګمارل.

۱۱. د مۍ د ۱۷ نېټې د تړون د اروپايي اتحادیې، ناټو او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) په ګډون د ګڼو داخلي او نړیوالو شریکبانو له خوا هرکلی وشو. نورو یې نیمګړتیاوې په ډاګه کړې. د بهرنیو چارو پخواني وزیر او د جمعیت اسلامي مشر صلاح الدین رباني او حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار پر خپل دریځ ولاړ وو، چې د ولسمشریز ټاکنو پایلې باید باطلې شي. طالبانو هم د تیرو تجربو د تکرار په څیر دغه تړون رد کړ.

۱۲. افغانستان ته د سولې راوستلو او د افغانستان اسلامي جمهوریت او امریکا د متحده ایالاتو ترمنځ د ګډې اعلامیې سره سم، د مارچ پر ۹ نېټه متحده ایالاتو د ۱۳۵ ورځو په د ننه کې د خپلو ځواکونو مشروطه راکموونې د پیل اعلان وکړ. همدارنګه د نوموړي تړون او ګډې اعلامیې پر بنسټ د باور جوړونې د تدابیرو د عملي کولو په موخه د بندیانو د خوشې کولو هڅې پیل شوې. د مارچ پر ۱۱ نېټه، ښاغلي غني په دوو پړاونو کې د ۵۰۰۰ طالب بندیانو د خوشې کولو فرمان لاسلیک کړ. د ۱۵۰۰ بندیانو لومړۍ ډله به د عمر، روغتیا او پاتې سزا پر بنسټ خوشې شي. پاتې ۳۵۰۰ بندیان به په بین الافغاني مذاکراتو کې د پرمختګ او د طالبانو له خوا د تاوتریخوالي د لا زیات کمولو په شرط خوشې کړای شي. ټول بندیان به دې تضمین خوشې کیږي چې هغوي به بیرته جګړې ته نه ستنیږي. د طالبانو ویاند دغه فرمان "د قناعت وړ نه دي" په څیر توصیف کړ او یو ځل بیا یې د مذاکراتو تر پیل کیدو مخکې د ۵۰۰۰ بندیانو د خوشې کیدو غوښتنه وکړه.

۱۳. د مارچ پر ۱۵ او ۱۶ نېټه، د افغانستان سولې او پخلاینې لپاره د متحده ایالاتو ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او په افغانستان کې د ناټو او متحده ایالاتو ځواکونو قوماندان جنرال استین میلر په دوحه کې له طالب استازو سره وکتل

 څو د طالبانو او دولت استازو ترمنځ د بندیانو د خوشي کیدو په اړه د ویډیو له لارې د تخنیکي خبرو اترو لپاره لار هواره کړي، کومې چې بیا وروسته د مارچ پر ۲۲، ۲۵ او ۲۹ نېټه ترسره شوې. د مارچ پر ۲۳ نېټه، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي پمپیو په قطر کې د طالبانو د سیاسي کمیسیون له مشر ملا برادر سره ولیدل څو د بندیانو د خوشې کولو د تسریح او د تاوتریخوالي د راکمولو د پلانونو په اړه خبرې اترې ترسره کړي.

۱۴. د سره صلیب د نړیوالې کمیټې په ملاتړ، د طالبانو یو دري کسیز تخنیکي ټیم د مارچ پر ۳۱ نېټه کابل ته را ورسید چې د بندیانو د خوشې کیدو او تایید په اړه خبرې اترې ترسره کړي، چې د دولت او طالبانو ترمنځ لومړی مخامخ لیدنه ګڼل کیږي. د مستحق کیدو د معیار پر سر له اختلافاتو سره سره د کومو له امله چې د اپریل پر ۷ نېټه خپل تخنیکي ټیم بیرته ور وغوښت، دولت د اپریل پر ۸ نېټه ۱۰۰ طالب بندیان او طالبانو د اپریل پر ۱۲ نېټه د دولت ۲۰ بندیان خوشې کړل. د اپریل پر ۱۳ نېټه، جنرال میلر او ښاغلي خلیلزاد له طالبانو سره په دوحه کې خبرې اترې ترسره کړې څو هغوي لا زیات د تاوتریخوالي راکمولو او د بندیانو خوشې کولو ته وهڅوي. ښاغلي خلیلزاد یو ځل بیا د مې پر ۶ او ۷ نېټه له طالبانو سره دوحه کې وکتل څو هغوي له زیات د تاوتریخوالي راکمولو او کوویډ-۱۹ وبا ته د رسیدګۍ لپاره د جګړې د بشرې ودرولو لپاره وهڅوي. د مې تر ۷ نېټې پورې، دولت د ټولټال ۱۰۰۰ طالب بندیانو د خوشې کولو راپور ورکړ، په داسې حال کې چې طالبانو د ټولټال ۲۷۶ بندیانو د خوشې کولو راپور ورکړی.

۱۵. د مې پر ۱۱ نېټه، دولت د بندیانو د خوشې کولو د بهیر د ځنډولو اعلان وکړ او هغه اندېښنې یې په ډاګه کړې چې د طالبانو له خوا تر دې دمه د خوشې شویو بندیانو ترمنځ هغه ولسي وګړي شامل دي څوک چې د فبروري د ۲۹ نېټې تر تړون وروسته تښتول شوي وو، او د طالبانو له خوا د افغان امنیتي ځواکونو د ټولټال ۲۰۰ بندیانو خوشې کول لا تر اوسه ځنډېدلي. ښاغلي یو ځل بیا د مې پر ۱۸ او ۱۹ نېټه له طالبانو سره په دوحه کې ولیدل. د مې پر ۲۰ نېټې هغه په کابل کې له ښاغلي غني، د مصالحې د عالي شورا له مشر ښاغلي عبد الله، د مذاکراتي ټیم له مشر ښاغلي ستانکزي او د سولې په چارو کې د دولت له وزیر ښاغلي رحیمي سره ولیدل، څو بین الافغاني مذاکراتو ته د رسیدو لپاره د اقداماتو په اړه خبرې اترې ترسره کړي.

۱۶. د تاوتریخوالي د راکمولو، اوربند او د بین الافغاني مذاکراتو په ملاتړ کې یوناما له داخلي، سیمه ییزو او نړیوالو شریکانو سره خپل تعامل جاري ساتلی. د اپریل پر ۹ نېټه، د افغانستان په اړه ځانګړو استازو او یوناما ویډیوي ناسته ترسره کړه چې د سولې په پروسه کې ونډه واخلي او د باور جوړونې تدابیرو لپاره هڅونې ترسره کړي. د یوناما له خوا د سولې ځایي نوښتونو دوام درلود. یوناما له ۲۵ په زیاتو ولایتونو کې له ځایي چارواکو سره کار کړی، چیرې چې د بشري مرستو د رسونې لپاره د جګړې درولو، سولې او د کوویډ-۱۹ د مخنیوي لپاره پر ځایي راډیو ګانو خپرونې ترسره شوې. د کابل ولایت په سروبي ولسوالۍ کې د ښځو یوه شورا د یوناما له خوا د سولې د ځایي نوښت له لارې جوړه شوه او ملاتړ یې وشو، چې خپل کار یې د کوویډ-۱۹ د مخنیوي له هڅو سره د ملاتړ په لور رهنمایي کړی. په ورته ډول، په کابل کې ښځو او ځوانانو ګروپونو د سولې د پیغامونو ترڅنګ د کوویډ-۱۹ د مخنیوي پیغامونو د خپرولو لپاره د خواله رسنیو کانالونه کارولي او له ځایي چارواکو او د ملګرو ملتونو د هیوادني ټیم له غړو سره دخیل شوي څو زیانمنیدونکو کورنیو ته د مرستو په ویش کې مرسته وکړي.

۱۷. د یوناما له خوا له ډونرانو او همکارو ادارو سره د همغږۍ خبرو اترو د سولې پروسې او مذاکراتي ټیمونو او دغه راز د سولې په چارو کې د دولت وزارت لپاره ملاتړ او تخنیکي مرسته بسیج کړې. د اپریل او مې په میاشتو کې، یوناما د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمیسیون ته د دې په ګډون چې د سولې پروسې او عامه خبرو اترو ته د قربانیانو لیدلوري څرنګه راوړل شي، د سولې، بشري حقونو او انتقالي عدالت د موضوعاتو په اړه د ګډون د انتخابونو په تړاو خپلې سلا مشورې جاري ساتلې. د سولې په پروسه کې د ښځو د ګډون لپاره ډونرانو او د سولې ماهرینو/مشاورینو ملاتړ همېرۍ کړی. د مارچ پر ۱۰ نېټه، په ملګرو ملتونو کې د افغانستان او د لویې برطانیې او د شمالي ایرلند متحده شاهي دایمي استازولیو په افغانستان کې د ښځو د ملګرو د ګروپ د ګډو مشرانو په څیر، د ښځو، سولې او امنیت لپاره د جورج ټاون له انستیتوت سره په ګډه په مرکزي دفتر کې د "د افغان میرمنو لپاره یوه خورا مهمه شیبه: د بین الافغاني سولې پروسه" تر عنوان لاندې یوه مباحثه رهبري کړه.

**ب. امنيت**

۱۸. امنيتي وضعيت لا اوس هم تاوتريخجن او د نه وړاندوينې وړ دی. د فبروري په وروستۍ اونۍ کې په ټول هیواد کې په تاوتریخوالي کې له کمښت سره په تیرو ۱۰ کلونو کې د هرو اوو ورځو مودې په پرتله د مستقیمو وسله والو نښتو راپورونه تر ټولو ټیټې کچې ته راټیټ شول، چې په دغې موده کې ټولټال ۴۱ وسله وال بریدونه ترسره شوي. د فبروري پر ۲۹ نېټه د تړون تر لاسلیک یوه ورځ وروسته د طالبانو بریدونه بیرته پیل شول. د طالبانو بریدونو ته په کتو سره، د افغانستان د دفاع وزارت سرپرست د مارچ پر ۱۹ نېټه د "فعال دفاعي وضعیت" اعلان وکړ. د مۍ پر ۱۲ نېټه د لوړې کچې تر بریدونو یوه ورځ ورسته چې په کابل کې یې یوه روغتون او په ننګرهار کې د جنازې مراسم په نښه کړي وو، ښاغلي غني اعلان وکړ چې افغان ملي او امنيتي ځواکونه به د طالبانو پر ضد د عملیاتو په بیرته پیلولو سره "یرغلیز وضعیت" ته وګرځي.

۱۹. د فبروري د ۷ او مۍ د ۱۴ ترمنځ، یوناما ۵۵۴۳ امنيتي پیښې ثبتې کړې، چې په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله ۲ سلنه کموالی په ډاګه کوي. د پیښو تر ټولو لوړ شمیر په جنوبي سیمو او تر هغو وروسته په شمالي او ختیځو سیمو کې رامنځ ته شوی، چې دغو دریو سیمو پیښې د ټولو پېښو ۵۹ سلنه جوړوي.

۲۰. رامنځ ته شوي جریانات لا اوس هم پر خپل حال پاتې دي، چې د راپور ورکونې په موده کې ۳۴۲۲ وسله والې نښتې د ټولو پیښو اکثریت (۶۲ سلنه) جوړوي او په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله د وسله والو نښتو ورته شمیر وړاندې کوي. دولت ضد عناصرو د تاوتریخوالي د کمښت تر مودې وروسته ۹۵ سلنه مستقیمې وسله والې نښتې پیل کړې. د لاس جوړ چاودیدونکو توکو کارونه د پیښې دویم تر ټول معمول ډول ګڼل کیږي، چې په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله ۲۲ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د راپور ورکونې په موده کې افغان او نړیوالو هوایي ځواکونو له خوا ۱۸۰ هوایي بریدونه په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله ۴۷ سلنه کموالی په ډاګه کوي، چې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د راکمو شویو هوایي عملیاتو منعکس کوونکی دي. د افغان هوایي ځواک له خوا د هوایي بریدونو شمیر یو عمومي زیاتوالی په ډاګه کوي.

۲۱. د راپور ورکونې په موده کې نه دولت پلوه ځواکونو او نه هم دولت ضد عناصرو کومې د پام وړ جغرافیایي لاسته راوړنې درلودې. د مارچ پر ۲ نېټه طالبانو اعلان وکړه چې هغوی بیرته خپل نظامي عملیات پیلوي؛ خو له دې سره سره لا تر اوسه یې د خپلو پسرلنیو یرغلیزو عملیاتو اعلان نه دی کړی. زیاتره جګړه ییز فعالیتونه په کندهار، هلمند، وردګو او بلخ ولایتونو کې ترسره شوي. د مارچ پر ۲۸ نېټه، طالبانو په بدخشان ولایت (شمال- ختیځه سیمه) کې د یمګان ولسوالۍ بېرته تر خپلې ولکې لاندې راوسته، کوم چې د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو له خوا د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر پر ۹ نېټه نیول شوې وه. د اپریل پر ۱۰ نېټه، افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د جوزجان ولایت (شمالي سیمه) کې د خامیاب ولسوالۍ بیرته ونیوله، کومه چې شا و خوا د دوو کلونو لپاره د طالبانو تر ولکې لاندې وه.

۲۲. د دولت ضد عناصرو له خوا د لوړې کچې بریدونو دوام درلود، چې د تیرې مودې د ۸ ځانمرګو بریدونو په پرتله د راپور ورکولو په موده کې ۱۰ دغه ډول بریدونه ترسره شوي. شپږو دغو بریدونو د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو تاسیسات، یو روغتون، د جنازې مراسم او یو عبادت ځای په نښه کړي. په کابل کې د مۍ پر ۱۲ نېټه پر یوه روغتون د برید مسوولیت لا تر اوسه چا پر غاړه نه دی اخیستی، په کوم کې چې د ۱۹ ښځو او ۳ ماشومانو په ګډون لږ تر لږ ۲۴ وګړي ووژل شول او نو زیږدو ماشومانو په ګډون ګڼ شمیر نو ژوبل شول. یو روغتیایي کارمند هم د وژل شویو کسانو تر منځ و. طالبانو په دغې پیښې کې لاس لرل رد کړي.

۲۳. په عراق او شام ولایت کې د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډله د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو او طالبانو له خوا تر دوامدار فشار لاندې ساتل شوې، په تېره بیا د افغانستان په ختیځ کې. په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې د ۱۲۲ پېښو په پرتله د راپور ورکولو په موده کې دغې ډلې ته ۱۸ پېښې منسوب شوي. په کابل کې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته د کومې پیښې تر منسوبونې پرته تر شپږ میاشتنۍ مودې وروسته، دغې ډلې د مارچ پر ۹ نېټه د ښاغلي غني د لوړې پر مراسمو د غیر مستقیمو وسلو د برید مسوولیت پر غاړه واخیست. نوموړې ډلې دغه

راز د مارچ پر ۲۱ نېټه د بګرام پر هوايي ډګر د راکټ برید او د مارچ پر ۶ نېټه په کابل کې د عبد العلي مزاري پر تلین غونډه د وسله وال برید مسوولیت پر غاړه اخیستی، په کوم کې چې ۳۲ ولسي وګړي ووژل شول. د لوړې کچې ځانمرګو بریدونو چې د مارچ پر ۲۵ نېټه یې په کابل کې د سیکانو درمسال او د مۍ پر ۱۲ نېټه یې په ننګرهار ولایت کې د جنازې مراسم په نښه کړل، مسوولیت هم د نوموړې ډلې خوا پر غاړه اخیستل شوی. د راپورونو له مخې د لومړي برید په پایله کې لږ تر لږه ۲۵ ولسي وګړي ووژل شول او ګڼ شمیر نور ژوبل شول، په داسې حال کې چې د دوي برید په پایله کې ۱۹ ولسي وګړي ووژل او لږ تر لږه ۶۰ نور ټپي شول. د مۍ پر ۶ نېټه، د ملي امنیت ریاست پر دوو موقعیتونو چاپې اچولو سره د اتو کسانو د نیولو خبر ورکړ. نیول کسان په ګډه د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې او حقاني شبکې پورې تړلي افراد په ډاګه شوي او د یو شمیر بریدونو په ترسره کولو تورن شوي. پر دې سربېره په دغو چاپو کې پنځه نور وسله وال وژل شوي. د مۍ پر ۱۱ نېټه، دولت راپور ورکړ چې په کابل کې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د چاپو په پایله کې د جنوبي اسیا او ختیځ لپاره د عراق او شام د اسلامي دولت درې مشران نیول شوي.

۲۴. د راپور ورکونې په موده کې د ملګرو ملتونو د کارمندانو په ضد د تهدیدونو د ۱۲پېښو، د ۴ جنايي پېښو او د تښتونې د یوې پېښې په ګډون، ۱۷ پېښې ترسره شوې.

**ج. سیمه ییزه همکاري**

۲۵. د افغانستان له خوا سیمه ییز تعامل او مشارکت د کوویډ-۱۹ وبا په پایله کې د سفر د رامنځ ته شویو محدودیتونو له امله محدود شوی او د سیمې د هیوادونو ترمنځ پر مرستو او همکاریو متمرکز و څو دغې وبا ته ځواب ووایي. دغو محدودیتونو همدارنګه پلان شوي څو اړخیز مشارکتونه هم محدود کړي لکه د اسیا زړه-استانبول پروسې په چوکاټ کې او د افغانستان په اړه د اقتصادي همکاریو سیمه ییز کنفرانس. افغان چارواکو د خوړو، درملو او نورو اړینو توکو پر مخ د پولې د پرانیستو ساتلو لپاره هڅې ترسره کړې. د چین، هندوستان، د ایران د اسلامي جمهوریت، قطر، سعودي عربسان، ترکمنستان او ازبکستان په ګډون زیات شمیر سیمه ییزو شریکباڼو له افغانستان سره د کوویډ-۱۹ ته د غبرګون په ملاتړ کې له افغان حکومت سره بشري مرستې کړي. د وبا له امله د خپلو پولو تر تړلو وروسته، ایران او پاکستان د افغان دولت په غوښتنه ومنله چې په مقطعه یي توګه خپلې پولې پرانیزي څو د هغوي له هیوادونو څخه د افغان وګړو راستنیدنه تسهیل کړي. د راپور ورکونې په موده کې ګاونډیو هیوادو د سوداګریزو کارګو جریان روان ساتلی.

۲۶. د اپریل او د مۍ د لومړیو ترمنځ، د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف له ښاغلي غني، د بهرنیو چارو له سرپرست وزیر ښاغلي اتمر، د ملي امنیت له سلا کار حمد الله محب او ښاغلي عبد الله سره یو لړ تیلفوني اړیکې نیولي، څو د سیاسي کړکیچ، بین الافغاني مذاکراتو او کوویډ-۱۹ ته د غبرګون په تړاو د دوه اړخیزې همکارۍ په اړه خبرې اترې ترسره کړي. ښاغلي ظریف همدارنګه د سیمې د هیوادونو له لوړ پوړو چارواکو سره د افغانستان د وضعیت په تړاو سلا مشورې ترسره کړې. د اپریل پر ۱۹ او ۲۰ نېټه، د افغانستان لپاره د ایران ځانګړي استازي ابراهیم طاهریان په کابل کې له افغان چارواکو سره ولیدل څو د افغانستان په اساسي قانون کې د وضع شویو سیاسي جوړښتونو او ادارو د ساتنې او دغه راز له طالبانو سره د خبرو اترو او ملي پخلاینې پر ارزښت خبرې اترې ترسره کړي.

۲۷. د اپریل پر ۱۶ نېټه، ملګرو ملتونو د دغه سازمان د افغانستان، چین، ایران، پاکستان، روسیې فدراتیف، تاجکستان، ترکمنستا، متحده ایالاتو او ازبکستان له دایمي استازو سره یوه ناسته ترسره کړه څو په افغانستان کې د سولې د ملاتړ لپاره د سیمه ییزو هڅو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. ګډونوالو له افغانستان سره د سولې، امنیت او ښیرازۍ په تر لاسه کولو کې خپله همکاري په ډاګه کړه او د یوه هر اړخیز اوربند لپاره یې د سرمنشي غوښتنه منعکسه کړه په تیره بیا د کوویډ-۱۹ له خپریدو سره د مبارزې لپاره د یوې بیړنۍ اړتیا په رڼا کې.

۲۸. د اپریل پر ۲۰ نېټه، ښاغلي اتمر د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر شاه محمود قریشي سره تیلفوني خبرې اترې ترسره کړې، څو د افغان سولې پروسې، د سولې او پیوستون لپاره د افغانستان-پاکستان د عمل پلان او کوویډ-۱۹ سره د

مبارزې په تړاو د دوه اړخیزې همکارۍ د پیاوړي کولو لپاره د لیدلورو په اړه خبرې اترې ترسره کړې. دوي د هغوي د تعامل د دوه اړخیز چوکاټ په څیر د عمل پلان پر بیا تازه کول او اقتصادیه همکارۍ پر پیاوړي کولو هوکړه وکړه.

۲۹. د اپریل پر ۲۷ نېټه ښاغلي اتمر د چین د بهرنیو چارو له وزیر یانګ ای سره خبرې وکړې او له هغه یې له کوویډ-۱۹ سره د مبارزې لپاره د طبي مرستو د برابرولو مننه وکړه. دوي دغه راز د اقتصادي همکارۍ او د کمربند او سړک د نوښت، له تروریزم سره د مبارزې د هڅو، د سولې او هغه رول په اړه خبرې اترې ترسره کړې چې چین یې د سیمې په کچه لوبولی شي.

۳۰. د اپریل پر ۲۸ نېټه، د ازبکستان د ریل وي ملي کمپنۍ له تاشکند څخه د افغانستان حیراتانو ته د اورګاډي له لارې د کارګو منظم خدمتونه پیل کړل. دغه خدمتونه په اونۍ کې درې ځلې ترسره کیږي، د اور ګاډي خدمتونه به د عرضې وخت راکم کړي او د پراخ سیمه ییز نښلون لپاره به زمینه برابره کړي.

۳۱. د مۍ پر ۴ نېټه ښاغلي غني د ازربایجان په کوربتوب د کوویډ-۱۹ په اړه د بې طرفه خوځښت د تماس ډلې په ویډیوي سرمشریزه کې ګډون وکړ. ښاغلي غني په خپله وینا کې پر عامه پوهاوي، مرستې، رغیدنې، سیمه ییز نښلون او نړیوالو مشارکتونو باندې د تمرکز په تړاو د منابعو د بیا تخصیص لپاره د خپل حکومت لید لورې په ډاګه کړ. هغه د بې طرفه خوځښت د تماس ډلې له غړو دولتونو وغوښتل چې پر طالبانو غږ وکړي څو تاوتریخوالی پای ته ورسوي او په سیاسي پروسه کې دخیل شي.

۳۲. د مۍ پر ۱۳ نېټه د شانګهاي د همکارۍ سازمان د غړو دولتونو د بهرنیو چارو وزیرانو د ویډیو کنفرانس له لارې یوه ناسته ترسره کړه د کومې په ترڅ کې چې هغوي کوویډ-۱۹ ته په غبرګون کې د نړیوالې همکارۍ د بسیجونې پر اهمیت ټینګار وکړ او یو ځل بیا یې د شانګهاي د همکارۍ سازمان د هڅو د لا زیاتې بسیجونې لپاره خپل چمتوالی تایید کړ څو په افغانستان کې یوه سیاسي حل ته له رسیدو سره مرسته وشي.

۳۳. د مۍ پر ۱۵ نېټه ښاغلي اتمر د قزاقستان د بهرنیو چارو له وزیر مختار تلیو بیردي سره تیلفوني خبرې اترې ترسره کړې. ښاغلي اتمر په ترانزیت، ترانسپورت او انرژۍ په سکتورونو او دغه راز د قزاقستان په کوربتوب د افغان وګړو لپاره په دوامدارو ښوونیزو پروګرامونو کې د همکارۍ په تقویه کولو کې د خپل حکومت لیوالتیا په ډاګه کړه. ښاغلي تلیو بیردي ښاغلي اتمر ته افغانستان ته د بشري مرستو د برابرونې په تړاو د خپل حکومت د پریکړې په اړه خبر ورکړ.

۳۴. د مۍ پر ۱۸ نېټه، د افغانستان لپاره د چین، ایران، پاکستان او روسیې فدراتیف ځانګړو استازو په افغانستان کې د وروستي وضعیت او د سولې او پخلاینې د پروسې په اړه ویډیويي ناسته ترسره کړه. په یوه اعلامیه کې، دوي د افغانستان د سیاسي مشرانو ترمنځ د هوکړې هرکلی وکړ او هیله یې څرګنده کړه چې دغه کار به د بین الافغاني مذاکراتو پیل ګړندی کړي. د "افغان په مشرۍ، افغانانو په مالکیت" د سولې او پخلاینې د پروسې په ملاتړ هغوي په ډاګه کړه چې ټول شموله بین الافغاني مذاکرات یوازنۍ هغه لار ده چې د افغانانو ملي پخلاینه درک کړای شي، او پر ټولو افغان ډلو او خواوو یې غږ وکړ چې زر تر زره مذاکرات پیل کړي. څلورو ځانګړو استازو له افغانستان څخه "په منظم او مسوولانه ډول" د بهرنیو ځواکونو د وتلو اړتیا په ډاګه کړه، د زندانیانو او توقیفیانو د خوشې کولو په ملاتړ یې غږ پورته کړ، او د امنیت شورا د ۲۵۱۳ (۲۰۲۰) پریکړه لیک د تطبیق هیله یې څرګنده کړه. دوي همدارنګه د اوربند لپاره د سرمنشي د نوښت ملاتړ وکړ او په ټول افغانستان کې یې د هر اړخیز اوبند د اعلان غوښتنه وکړه. دوي د تروریزم په ضد د اقدام غوښتنه وکړه، او کوویډ-۱۹ پر اغیزو د لاس بري کیدو لپاره یې له افغانستان سره یو ځل خپل ملاتړ تایید کړ، او په ډاګه یې کړه چې د افغان کډوالو ادغام او رستوونه باید د سولې او پخلاینې د هرې پروسې برخه وي.

## ۳. بشري حقونه

۳۵. په افغانستان کې شخړه په نړۍ کې د ملکیانو لپاره یوه له وژونکې هغو څخه ده. د اپریل په ۲۷، یوناما په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه خپل لومړنی ربع وار راپور خپور کړ. د ۲۰۲۰ د جنوري د ۱ څخه د مارچ تر ۳۱ پورې، ماموریت ټولټال ۱۲۹۳ تلفات (۵۳۳ مړه او ۷۶۰ ټپیان) مستند کړي، چې دا د ۲۰۱۹ کال د ورته مودې په پرتله ۲۹ سلنه کموالی ښیي. د یادې ربعې په جریان کې ځمکنی نښتې (۳۰ سلنه) د ملکي تلفاتو مخکښه لامل پاته شوی، په دې پسې عمدي وژني (۲۶ سلنه) او غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکې توکي (۱۸)سلنه راځي. په مارچ کې، د دولت پلوه او طالبانو تر منځ د تاوتریخوالي د کمښت د یوې اونۍ اوږدې منل شوې مودې وروسته، یوناما د تاوتریخوړالي په برخه کې زیاتوالی او د ملکي تلفاتو په برخه کې ور پسې تړلی زیاتوالی او اړول شوی زیان مستند کړ.

۳۶. دولت ضد عناصر د ثبت شویو ملکي تلفاتو د ۵۵ سلنې مسؤل وو، چې د هغې له جملې څخه ۳۹ سلنه یې طالبانو ته، ۱۳سلنه داعش او ۳ سلنه نا پیژاندو د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي. د ۲۰۲۰کال په لومړۍ ربع کې، دولت ضد عناصرو ته منسوب د ملکي تلفاتو شمیر، په ځانګړي توګه طالبانو ته، د ۲۰۱۹کال د لومړۍ ربع په پرتله ۲۲ سلنه ډیر شوی، چې عمده لامل یې هدفي وژنې او په خپل سر اعدامونه و. دولت پلوه ځواکونو د ملکي تلفاتو د ۳۲ سلنې لامل شوې، چې ۲۱ سلنه یې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو ته، ۸ سلنه نړیوالو نظامي ځواکونو ته او ۳ سلنه دولت پلوه وسله والو ډلو او څو ګونو یا ناپیژاندو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوې.

۳۷. په افغانستان کې وسله واله شخړه په نړۍ کې د ماشومانو لپاره تر ټولو وژونکې هغه ده. په وسله واله شخړه کې د ماشومانو پر وړاندې د جدي سرغړونو په اړه د نظارت او راپور ورکولو په اړه د هیواد کاري ځواک د ۲۰۲۰ کال د لومړۍ ربع پر مهال د ماشومانو ټولټال ۴۱۷ تلفات (۱۵۲ مړه او ۲۶۵ معلولیت) تایید کړي. د دولت ضد عناصرو له خوا د ماشومانو د دوه برابره څخه د زیاتو تلفاتو پرتله دولت پلوه ځواکونه د زیاتو ملکي تلفاتو مسؤل پاته شوي. د یادې ربعې پر مهال، کاري ځواک د طالبانو له خوا د جګړه ییزو مقشونو لپاره د څلورو ماشومانو استخدام او کارونه تایید کړې، او یوناما په پرله پسې توګه د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په شمول، د ماشومانو پر وړاندې د جنسي تاوتریخوالي په اړه اعتبار لرونکي ادعاووې ترلاسه کړې. کاري ځواک د شخړې اړوند ۱۸ پیښې، کومې چې د روغتیا پالنې تاسسات او کارکونکي متاثره کوي ریکارډ کړې، د هغو له جملې څخه ۱۷ هغه یې طالبانو او یوه هغه یې افغان ملي پوځ ته منسوب شوې. کاري ځواک د ښوونځیو او خوندي پرسونلو پر وړاندې د بریدونو اته پیښې تایید کړې، د کومو له جملې څخه چې څلور طالبانو، دوه افغان ملي پوځ، یوه داعش او یوه ناپیژانده وسله والې ډلې ته منسوب شوې. په دغو پیښو کې دوه بریدونه شامل و کومو چې په عمدي توګه ښوونځي او ښوونکي په نښه کړې، پنځو بریدونو ښوونځیو او ښوونیزو کارکونکو ته تصادفي زیان اړولی او یوه تعلیمي مرکز ته یې ګواښ پیښ کړی. کاري ځواک همداراز د بشر پالنې د لاسرسي د انکار دری پیښې تایید کړې، چې دوه هغه یې طالبانو او یوه هغه یې افغان ملي پولیسو ته منسوب شوې.

۳۸. د مارچ په ۲۶، ولسمشر د ښځې، په توقیف کې د توقیف شویو کسانو د تحقیقاتو د تعلیق او د سزاګانو په تطبیق کې د ځنډ په اړه یو ځانګړی فرمان صادر کړ ترڅو د کووید-۱۹ وبا د خپریدو مخنیوی وکړي . د اپریل په ۲۷، د مجاهدینو د بریا د ورځې په مناسبت، ولسمشر یو بل فرمان صادر کړ چې په هغه کې یې د هغو بندیانو پرته چې په جرمونو محکوم شوي او د جزايي اجرااتو د قانون لاندې تر ښځې لاندې نه راځي او چا ته چې به په مجازاتو کې د پام وړ کمښت ورکړل شي، د ټولو پاتې بندیانو د خوشې کیدو امر وکړ. د ښځو پر علیه د خشونت د له منځه وړلو په قانون کې تر پوښښ لاندې جرمونه د بخښنې څخه مثتسنی و. د می په ۱۴، نږدې ۹۷۰۰ توقیفیان او بندیان د ولسمشرۍ د دوو فرمانونو پر اساس له بند څخه خوشې شوي دي. دې ته په پام سره د مارچ تر ۲۶ نیټې پورې چې کله لومړی فرمان صادر شو، د بندیانو او توقیفیانو اټکل شمیر ۴۱۰۰۰ وو، په زندانونو کې د ګڼې ګوڼې د کمولو او د کووید-۱۹ وبا د خپریدو په مخنیوي کې د خوشې کیدو اغیز محدود دی. د خوشې شویو ښځینه وو بندیانو شمیر ټیټ ښکاري. د دې سربیره، له بند څخه له خوشې کیدو وروسته د ښځینه وو بندیانو لپاره د ملاتړ نه شتون، د هغو بندیانو په شمول څوک چې ممکن و نه شي کولای بیرته خپلو کورنیو ته ستانه شي، بله ننګونه را منځ ته کوي. د اپریل د ۱۹ او ۲۴

ترمنځ، ملګرو ملتونو د ښځو چارو وزارت ته تخنيکي مشورې او ملاتړ چمتو کړ ترڅو وکولای شي په ټول افغانستان کې له بند څخه د خوشې شويو ميرمنو لپاره بشردوستانه مرسته چمتو کړي. ملګري ملتونه، د بشرپالنې د نورو شريکبانو او مدني ټولنې د سازمانونو سره د خوندي کورونو د موندلو لپاره په ګډه يو له بل سره کار کوي تر څو د اصلاحي/تاديبي خدماتو څخه د هغوی د خوشې کيدو پرمهال د ښځو لپاره د انتقالي خونديتوب شبکې چمتو کړي.

۳۹. د مارچ په ۲۳، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون، د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتريخوالي په اړه خپل کلنی راپور خپور کړ. په ۲۰۱۹ کال کې، کميسيون د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتريخوالي ۴۶۹۳ قضيې ثبت کړې، چې دا د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله ۴. ۸ سلنه زياتوالی دی. د ۹۷ سلنې څخه زياتې پيښې په کورونو کې واقع شوي. د کوويډ-۱۹ وبا له امله د هيواد په کچه قضايي سيستم اجراات ټکني کړي دي. په هرصورت، د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو په اړه د قانون لاندې د جرمونو تحقيق او تعقيب دوام لري. د کوويډ-۱۹ وبا له خپريدو راهيسې، د هيواد په ډيری برخو کې عدلي سکتور او د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتريخوالي نورو فعالينو ته د راپورونه کچه را کمه شوي، د خوځښت د محدوديتونو له امله رسمي عدالت او د خونديتوب ځايونو ته د لاسرسي په برخه کې د ننګونو د زياتوالي وړاندېز کوي. په هرصورت، داسې نښې نښانې شتون لري چې په حقيقت کې د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالی ډير شوی.

۴۰. د تيرو مياشتو په ترڅ کې، يوناما په يو شمير بيلابيلو برخو کې، د بيلګې په توګه، د سولې، بشري حقونو او انتقالي عدالت په اړه د تخنيکي مرستې د چمتو کولو، او همدارنګه د کوويډ-۱۹ وبا سره د غبرګون په برخه کې د بشري حقونو د ساتنې په اړه د همغږۍ او مشورې په شمول د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون سره خپله همکاري پياوړې کړې. د مشرتابه او کاري کچو د منظمو غونډو له لارې د يوناما او کميسيون ترمنځ موضوعي همغږي تقويه شوې.

۴۱. د رسنيو کارمندان او د بشري حقونو مدافعين په پرله پسې توګه د ګواښ او تاوتريخوالي سره مخ دي. د راپور ورکولو د دورې په جريان کې، د بشري حقونو پنځه تنه مدافعين په کابل او دريو نورو ولايتونو کې د ادعا سره سم د دولت ضد عناصرو له خوا وژل شوي، پداسې حال کې چې مسؤليت يې چا نه دی په غاړه اخيستی. په پکتيکا کې د بشري حقونو درې نور مدافعين د طالبانو لخوا تښتول شوي او ورسره بد چلند شوی. په زابل کې، طالبانو يو خبريال وتښتاوه، چې د ټولنې د مشرانو له مداخلې وروسته دوه ورځې وروسته خوشې کړای شو. د مې په ۹، امنيتي ځواکونو د راپور سره سم پنځه تنه هغه مهال ووژل چا چې د غور ولايت په پلازمينه کې د حکومت له خوا د بشردوستانه مرستو د ويشلو په لاريون کې ګډون کړی وو. يوه خبريال چې د کوويډ-۱۹ وبا سره د مبارزې د تخصيص شويو مرستو د ناسم مديريت په اړه انديښنې راپورته کړې په کونړ کې د امنيتي ځواکونو لخوا نيول شوی (او وروسته خوشې شوی)، او يو بل خبريال په يوه بل ولايت کې د راپور سره سم د ورته مسلې په اړه د انديښنې د راپورته کولو لپاره د ځايي چارواکو لخوا ګواښل شوی.

۴۲. د مارچ په ۵، د نړيوالې جنايي محکمې د استيناف چيمبر/ محفظه - اتاق (ICC) د نړيوالې جنايي محکمې څارنوالانو ته اجازهورکړه چې د افغانستان په قلمرو کې د ترسره شويو ادعا شويو د جرمونو په تړاو (د ۲۰۰۳ کال د مې د مياشتې راهيسې) او همداراز په افغانستان کې د شخړې په تړاو د نورو ادعا شويو جرمونو په تړاو خو چې د ( ۲۰۰۲ کال د جولای د مياشتې راهيسې) د نړيوالې جنايي محکمې د نورو هيوادونو په قلمرو کې ترسره شوي، تحقيقات پيل کړي. ياد حکم د ۲۰۱۹ کال د اپريل د ۱۲ نيټې له محاکمې مخکې د دوهم چيمبر/ محفظه - اتاق پريکړه تعديل کړه. د اپريل په ۱۵، څارنوال د محاکمې څخه دمخه د دويم چيمبر قاضيانو ته خبر ورکړ چې د افغانستان حکومت، د مارچ په ۲۶، د څارنوال څخه غوښتنه کړې وه چې د روم د اساسنامې د ۱۸ (۲) مادې پر اساس د افغانستان داخلي تحقيقات وځنډوي. د افغانستان حکومت څارنوال ته د ملي تحقيقاتو او جريانونو د شرحې د يوه غير جامع لنډيز چې د ترسره کيدو په حال کې دی، وړاندېز وکړ او د ۲۰۲۰ کال د جون تر ۱۲ نيټې پورې يې د ځنډ د غوښتنې د ملاتړ په موخه د اضافي معلوماتو او موادو د چمتو کولو د احتمال غوښتنه وکړه.

**۴. د پرمختیایي مرستې همغږي**

۴۳. د افغانستان په اړه د ۲۰۲۰ کال د وزیرانو د کچې د تعهداتو د کنفرانس لپاره د چمتووالي په برخه کې د افغانستان د حکومت او غړو هیوادونو سره د لوړې کچې ناستو دوام درلود کومې چې د یوناما په مرسته د افغانستان او فنلنډ د حکومتو له خوا په ګډه تنظیم شوې وې. د کوویډ-۱۹ وبا د اغیزو په پام کې نیولو سره، تمویلوونکي د تخنیکي چمتووالي د دوام په خاطر یوې هوکړې ته ورسیدل. همداراز مرستندویانو هوکړه وکړه چې د مهمو پراختیایي لومړیتوبونو د پیژندلو چارې چټکې کړي ترڅو د حکومت لخوا د افغانستان د سولې او پراختیا د ملي چوکاټ ملاتړ وکړي، تمه کیږي چې د جولای تر پایه به وړاندې شي. د مالیې له وزارت سره تر مشورې وروسته، یوناما د راتلونکي دوه اړخیزې حساب ورکونې د چوکاټ لپاره د طرحې یو یادداشت چمتو کړ ترڅو د پراختیایي شریکانو سره خبرې اترې تسهیل کړي. د فنلنډ هیواد ځانګړی استازی، جین تالاس د دې لپاره په دنده وګمارو تر څو د کنفرانس لپاره د پلانولو په برخه کې مرسته کونکي ټولنه او حکومتونه ښکیل کړي.

۴۴. د مارچ د ۲۶ نیټې د ولسمشر د فرمان په تعقیب، په کوم کې چې اختیارات ورکړل چې لویه څارنوالۍ دې د ټولو دوسیو لپاره مګر د کوویډ-۱۹ ناروغي سره د مبارزې د یوې برخې په حیث د ډیرو سختو جنایي دوسیو تحقیقات او محاکمې وځنډوي، سترې محکمې د می په ۹ نیټه د یوناما په ملاتړ یوه کاري ډله جوړه کړه، چې د پریکړو د اوریدلو لپاره بیړني حالتونه او احتمالات رامنځ ته کړي چې د ویډیو کنفرانس د تکنالوژۍ کارولو ته به دوام ورکړي. ملګري ملتونه به په پرله پسې توګه د عدلیې وزارت په چوکاټ کې د قضایاي دولت د ریاست او د قانوني مرستې د واحدونو لپاره د دوامداره عملیاتو لپاره د تخنیکي مشورې برابرولو ته دوام ورکړي. د اپریل او می په میاشتو کې د قضا د سکتور د چاراوکو پر وړاندې بریدونه زیات شوي. د مارچ د ۲۵ او د می د ۲ نیټو په هدفي بریدونو کې، د سترې محکمې اداري مشر ووژل شو او یو لوړ رتبه څارنوال ټپي شو.

۴۵. د مارچ په ۲۲، سترې محکمې د فساد ضد عدلي مرکز د استیناف د محکمې د ۲۰۲۰ کال د جنوري د ۱۵ نیټې پریکړه تایید کړه کومې چې نهه پخواني انتخاباتي کمیشنران محکوم او بندي کړل. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون شپږ پخواني کمیشنران او د ټاکنیزو د شکایتونو له خپلواک کمیسیون څخه درې پخواني کمیشنران په کنړ ولایت کې د ۲۰۱۸ کال په پارلماني ټاکنو کې د رایو د شمېرنې د تغیر په جرم په دوه نیمو کلونو بند محکوم شول. د هغو اقداماتو د یوې برخې په حیث چې موخه یې د کوویډ-۱۹ ناروغۍ پر مهال په زندانونو کې د ګڼې ګوڼې کمول و، د اپرېل په ۱۵، سترې محکمې ټول نهه پخواني کمیشنران په ضمانت خوشې کړل. د مارچ په ۲۶، د کورنیو چارو د وزارت په دننه کې د سنګینو/درندو جرمونو د کاري ځواک نوی مشر وټاکل شو او د ریاست په اصلاح کولو یې پیل وکړ. په می میاشت کې، هغه په اداري فساد پورې د اړوندو جدي قضیو د ټولټال ۲۵۵ نیولو د حکمونو او احضارولو یو نوی جوړ شوی لیست وړاندې کړ (د افغانستان په اړه د ۲۰۱۸ کال د ژنیوا د وزیرانو د کنفرانس څخه د مخه د ټولټال ۱۲۷ پیژندل شویو هغو په شمول) ، چې ټولټال ۱۶۹ هغه یې د می تر ۱۴ پورې اجرا شوي.

۴۶. د مارچ په ۴، کابینې د نا قانونه شتمنیو او د اداري فساد د عوایدو د بیا ترلاسه کولو په اړه مقرره تصویب کړه، کومه چې د اداري فساد پر وړاندې د قانون په تعقیب صادره شوه او موخه یې د ترلاسه شویو نا قانونه شتمنیو په برخه او همدارنګه د هغوي د اغیزمن او شفافه مدیریت په برخه کې د عدلي او قضایي ارګانونو او نورو اړوندو ارګانونو د دندو تنظیمول و. د مارچ په ۵، د عالي پلټنې د دفتر بیا کتل شوی قانون د ولسمشر د تقنیني فرمان له لارې تصویب شو، په کوم کې چې نړیوال معیارونه او نورمونه شامل دي او موخه یې د دولت د بودیجې د پلټنو د موثریت زیاتوالی دی.

۴۷. د ټولټال ۶۳ تحویل وړ شیانو له جملې څخه چې د ۲۰۱۹ کال د ژنیو د دوه اړخیزې حساب ورکونې په چوکاټ کې شامل دي د هغو له جملې څخه ټولټال ۱۵ هغه یې د ترلاسه کولو په حال کې دي او ۳۰ هغه یې په مسیر کې قرار لري او ۱۸ هغه یې نیمګړي یا له مسیر څخه وتلي دي. د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د ثبت شویو شکایتونو ۹۵ سلنې ته رسیدګي کړې، او د لویې څارنوالۍ لخوا د اداري فساد ټولټال ۱۱۲۷ ثبت شوي قضیې د تحقیق لپاره

اړوندو ارګانونونو ته راجع شوي، پداسې حال کې چې ټولټال ۴۳۷ هغه يې محاکمې ته راجع شوې دي. د توسعه شوي کريډيټ سهولت شپږ بياکتنې بشپړې شوې، او د ټولټال ۴۴.۴ میلیون ډالرو د برداشت ځانګړي حق حکومت ته پرداخت شوی. د ژوند معيار د ښه کولو په هدف، په ټوليزه توګه ۳۶۵۷ ټولنو لږ تر لږه د انرژۍ، سړکونو، اوبو لګولو، ښوونځيو يا د ځښاک په اوبو پورې اړونده يوه پروژه بشپړه کړې. د افغانستان د بيارغونې د وجهي صندوق د شراکت د پروګرام او د تمويل د پروګردام لاندې نږدې ۶۰ سلنه اصلي اصلاحات پلې شوي.

۴۸. افغانستان د هغو ۲۵ هيوادونو له جملې څخه يو دی چې د پور د خدمت د معافيت څخه ګټه اخلي چې د پيسو د نړيوال صندوق (IMF) د اجرايوي بورډ لخوا د اپريل په ۱۳ د ناورين د مهارولو او د مرستو د وجهي صندوق لاندې تصويب شو، چې هدف يې له ګټه اخيستونکو سره د هغوي د پيسو د نړيوال صندوق د پور د مکلفيتونو د پوښښ په برخه کې مرسته کول دي او همدارز په دې سره د کوويډ-۱۹ بيړنيو طبي او نورو امدادي هڅو په لور د سرچينو مسير ته جهت ورکړي. د اپريل په ۲۹، اجرايوي بورډ د چټک اعتبار/کريډيټ د اسانتيا له مخې د نږدې ۲۲۰ ميليون ډالرو بيړنۍ مرستې لپاره د دولت غوښتنه تصويب کړه.

۴۹. د مې په ۷، د نړيوال بانک د اجرايوي رييسانو بورډ د ۴۰۰ ميليونو ډالرو مرستې تصويب کړې ترڅو له افغانستان سره د کليدي اقتصادي او عامه مالي چارو د اصلاحاتو د ساتنې په برخه مرسته وکړي، او د کوويډ-۱۹ وبا له امله د خطرونو او بې باوريو د اداره کولو په برخه کې د هيواد د مديريت ملاتړ وکړي.

**۵. بشري مرستې**

**۵۰.** دوامداره شخړه، طبيعي حوادث، مزمنه نيستې، د خوراکي توکو نه مصونيت او د کوويډ-۱۹ وبا اضافي بوج په ټول افغانستان کې د خلکو لپاره د مخ پر زياتيدونکي کړاو لامل ګرځيدلی.

۵۱. د مې تر ۲۱ پورې، ټولټال ۸۶۷۶ افغانان د کوويډ-۱۹ وبا پر وړاندې مثبت ارزول شوي او ټولټال ۱۹۳ تنه مړه شوي. د مارچ د نيمايي راهيسې، د خوراکي توکو عمده نرخونه تر ۲۰ سلنې پورې لوړ شوی، چې دې د ټولنيزو اقتصادي تاثيراتو په اړه انديښنې راپورته کړي. د نړيوال بانک په حواله، اټکل کيږي چې په افغانستان کې به د کورني ناخالص توليد کچه په ۲۰۲۰ کې ۱۷ سلنه را ټيټه شي.

۵۲. د مارچ په ۲۷، حکومت په پيل کې د کابل او ټاکل شويو ولايتونو لپاره پر تګ را تګ د بنديز اعلان وکړ . د اپريل په ۲۱، ښاغلي غني د ۸۸.۵ ميليون ډالرو بيړنۍ بوديجه تصويب کړه او واليانو ته يې له ۲۶۳۰۰۰ ډالرو څخه نيولې تر ۵.۲۶ ميليون ډالرو پورې بوديجه تخصيص کړه. د اپريل په ۲۳، ښاغلي غني د کوويډ-۱۹ وبا اقتصادي پايلو ته د رسيدو موخه د حکومت پلان وړاندې کړ، چې تمرکز يې په روغتيا پالنه، خوراکي مصونيت، عامه کارونو او اقتصادي سيمه ييزې همکارۍ و. د مرسته کونکو څخه غوښتنه شوې وه چې "د مرستو، بيا تر لاسه کولو او د محرکو پروګرامونو په برخه کې موجوده ژمنې بيا پروګرام کړي" او د "سيمه ييز غبرګون د ستراتيژي ګانو اني په را منځ ته کولو کې" سيمه ييز همکاران ښکيل کړي. د مې په ۲، په ټول هيواد کې د تګ راتګ بنديز د مې تر ۲۴ غزيدلې و.

۵۳. د کوويډ- ۱۹وبا د خپريدو په غبرګون کې، د ملګرو ملتونو د هيواد د کچې ټيم او د بشرپالنې د چارو د هيواد د کچې ټيم مشترک پروګرامونه رامنځ ته کړل، چې د حکومت د پلان سره سمون لري چې د "کورونا د ويروس پر وړاندې ځواب وايي: د خبرو لپاره بلنه"، او همدارز د کوويډ-۱۹ وبا پر وړاندې د چټک ټولنيز اقتصادي غبرګون لپاره د ملګرو ملتونو چوکاټ. ملګرو ملتونو او نړيوال بانک خپلو نږدې همکاريو ته چې تمرکز يې د وبا د ناروغۍ پر وړاندې د اساسي توکو او تدارکاتو لپاره د دولت لپاره د ټولنيزې اقتصادي بيارغونې او د تدارکاتو د خدمتونو لپاره پر تخنيکي ملاتړ دي، دوام ورکړ.

۵۴. روغتيايي شريکانو د انزوا کيدو/ ګوښه کيدو د مرکزونو د را منځ ته کولو په برخه کې د حکومت سره مرسته کړې ، چې د ټولټال ۲۲۰۰۰ بسترونو ټوليز ظرفيت لري او تر دې دمه يې د هيواد په کچه د آزموينې د ۱۵ پلان شويو لابراتوارونو له جملې څخه د ۹ هغو د را منځ ته کولو په برخه کې مرسته کړې. د مې تر ۲۰ نيټې پورې، د ټولټال

۹۸۳۰۰۰ څخه زیاتو زیانمنونکو کسانو د کورونا ویرس – د ځانګړي حفظ الصحي کړنو، او همداراز د حفظ الصحي تدارکاتو په اړه لارښوونې ترلاسه کړې. د عامې روغتیا وزارت په غوښتنه، ملګرو ملتونو د اپریل په ۱۸ په کابل کې د دوو روغتونونو لپاره د شخصي محافظت تجهیزات او د ناروغۍ د مخنیوي او کنټرول د اکمالاتو شپږ میاشتنۍ تدارکات وپېرل او وسپارل چې هره میاشت د ۱۰۰۰۰ څخه زیاتو میرمنو لپاره خدمات وړاندې کوي.

۵۵. د کووید- ۱۹ناروغي خپریدل په ښځو او نجونو ناوړه اغیزې لري. د تګ را تګ په موخه د مخنیوي اقدامات چې موخه یې د وبا د ناروغۍ مخنیوی دی په ډېر احتمال سره به د کورني تاوتریخوالي کچه لوړه کړي. ملګري ملتونه او شریکباني یې د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي او د ټولو پروګرامونو په کچو کې په ښځو او نجونو د کوویډ-۱۹ د غیر متناسبو اغیزو د رسیدګي په موخه عمده فعالیتونه لري. د اروپايي اتحادیې - ملګرو ملتونو د توجه وړ ګډ نوښت تصویب شوی ترڅو د مداخلت چټکې اغیزې چمتو کړي او د کوویډ-۱۹ناروغۍ په پایله کې د کورني تاوتریخوالي زیاتیدونکي خطرونه په ګوته کړي او د لومړۍ کرښې د ځوابویونکو سره مهم پیغامونه او معلوماتي وسایل شریک کړي تر څو د جنسي او د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي په اړه پوهاوی لوړ کړي. د اپریل په ۱۶، ملګرو ملتونو د میرمنو د مدني ټولنې د سازمانونو او په ولایتونو، ولسوالیو او کلیوالي ټولنو کې د ښځو لپاره د ځایي هڅو په اړه د بحث او چلند د بدلون په موخه چې د کوویډ-۱۹ ناروغۍ د خپریدو مخه ونیسي او د کوویډ-۱۹ پر وړاندې د مبارزې په ډګر کې د ښځو او نجونو رول پیاوړی کړي، یو آنلاین پلیټ فارم چمتو کړ ترڅو د مناسبو پیغامونو په اړه بحث وکړي.

۵۶. په زیان منونکو خلکو د تمرکز له لارې، د بې ځمکې او د ښځو په مشرۍ د کورنیو او معلولیت لرونکو اشخاصو په شمول، په معیشتونو د دې ناروغۍ د اغیزو د ځوابولو په موخه، ملګري ملتونه په یوه داسې کمپاین کې ښکیل دي چې د اپریل او جون د میاشتو تر منځ د ټولټال ۳۰۰۰۰۰ څخه زیاتو خلکو ته د معیشت په تړاو مرسته رسوي. ټولټال ۱۹۴۲۵۰ بې ځمکې کارکرانو، زیانمنونکو ښځو او کروندګرو کورنیو ته په اضافي لاسرسي سره، تمه کیږي چې شاوخوا ۲۴۵۰۰ کوچي شپانه به د څارویو خواړه ترلاسه کړي.

۵۷. د خوراکي توکو نه مصونیت په خطرناکو لوړو کچو کې قرار لري. په اپریل او مۍ میاشتو کې، شاوخوا ۱۳.۴ میلیونه خلک یا خو په بحران کې او یا خو د خوراکي توکو د نه خوندیتوب په اضطراري کچه کې وو (د غذايي مصونیت د طبقه بندی د یکپارچه پړاو دریمه او څلورمه کچه)، په بیړنیو کچو باندې د خلکو شمیر ۴.۳ میلیونو ته لوړ شو. په ۲۰۲۰ کې د ۳ میلیونو څخه ډېرې میرمنې او ماشومان به په شدیده خوارځواکۍ اخته شي، اټکل کیږي چې ټولټال ۱۶۰۰۰۰ اضافي خلک به د کوویډ-۱۹ له امله اغیزمن شي. د فبروري له ۱۵ څخه د مۍ تر ۲۰ پورې، ملګرو ملتونو او شریکبانو یې د خوراکي توکو له پلوه نه مصونیت لرونکو خلکو ته ۳۷۳۵۵ میټریک ټنه خواړه او ۲.۱۶ میلیون ډالره نغدي مرستې برابرې کړې چې د جګړو او طبیعي پیښو څخه اغیزمن شوي، د ټولټال ۷۲۰۰۰ څخه زیاتو ماشومانو درملنه یې کړې چې شدیده خوارځواکي یې لرله، او په لومړیتوب لرونکو ولایتونو کې یې د بحالي/ اعاده کونکې درملنه له مخکې ځای پر ځای کړې، او د کوویډ-۱۹حالت په اړه پروتوکولونو تطبیقوي. په ولایتونو کې، د ټولنې د تغذیې د مخنیوي د خدمتونو له لارې په میاشت کې نږدې ۱۰۰۰۰۰ ماشومانو ته رسیدنه شوې. د خوراکي توکو د مصونیت شریکانو همداراز د سیمه ایزو چارواکو سره همکاري وکړه ترڅو کروندګر په دې وتوانوي چې د محصولاتو فصلونه را ټول کړي پداسې حال کې چې د کوویډ-۱۹ ناروغۍ په معرض کې د واقع کیدو خطر کموي، پدې توګه د خوراکي توکو د مخ پر زیاتیدونکې نه مصونیت او تغذیه یې نیمګړتیاووې را کموي.

۵۸. افغانستان ته د راتلونکو نا راجستر شویو راستنیدونکو شمیر ډېر شو. د فبروري د ۱۵ او د مۍ د ۲۰ تر منځ، هیواد ته ټولټال ۲۴۱۴۹۹ نا راجستر شوي راستنیدونکي او ۳۱۸ کډوال ستانه شوي چې په دې سره د کال د پیل راهیسې د افغان کډوالو او مهاجرینو شمیر کابو ۲۸۷۹۷۹ته رسیدلی. د ۲۰۱۹ کال د ورته مودې په پرتله، په مارچ کې د راستنیدونکو کسانو په شمیر کې پنځه برابره زیاتوالی و. د دغو راستنیدونکو کسانو زیاتره برخه د ایران د اسلامي جمهوریت څخه، د هغو ښارونو څخه چې د کوویډ-۱۹ له امله شدید اغیزمن شوي، هیواد ته ستانه شوي. د کوویډ-۱۹ وبا د خپریدو پر سر د اندیښنو له امله د ترکیې د هیواد څخه د کډوالو په خپله خوښه راستنیدنه د مارچ د میاشتې د ۴ نیټې راهیسې ځنډیدلې.

۵۹.	شخړه او ناورینونه په پرله پسې توګه بشري اړتیاووې را منځ ته کوي. د فبروري د میاشتې له پای راهیسې، تر ۱۲۰۰۰ څخه زیات خلک نوي بې ځایه شوي دي. د ۲۰۱۹ کال د پای او د اپریل د ۲۰ تر منځ، حکومت او بشردوستانه شریکانو تر ۲۰ میلیونو ډالرو ډیره مرسته کړې او د ۷۶۵۸۹ زیانمنونکو کورنیو لپاره چې د ژمني شرایطو له امله زیانمن شوي د سرپناه، تودوخې توکي او جامې برابرې کړې. د جنوري له ۱ څخه د اپریل تر ۲۸ پورې، ملګرو ملتونو او شریکبانو یې د ۲۰۰۰۰ څخه د ډیرو سیلاب ځپلو لپاره بیړنۍ سرپناه، د کور توکي او نغدي مرسته چمتو کړې.

۶۰.	د کال د پیل راهیسې د ګوزڼ ۱۱ تایید شوې پیښې راپور شوې، زیاتره پیښې په هغو سیمو کې چې د غیر دولتي وسله والو ډلو لخوا کنټرولیږي او چیرې چې د کور په کور واکسین کمپاینونه د ۲۰۱۸ کال د مۍ د میاشتې راهیسې منع شوي، راپور شوې. د فزیکي واټن له امله، روغتیایي شریکان اړ شول چې د واکسیناسیون دوه پروګرامونه وځنډوي چې ممکن ۹.۹ میلیونه ماشومان یې تر پوښښ لاندې نیولي وای.

۶۱.	نا امني او د ماینونو د ککړتیا مسلې په پرله پسې توګه بشردوستانه غبرګون ننګوي. د کال له پیل راهیسې، مرستندویه کارکونکو د لاسرسي په تړاو د ټولټال۳۳۲ پیښو راپور ورکړی. د فبروري د ۱۵ او د مۍ د ۲۰ تر منځ، ۸ مرستندویه کارکونکي مړه، ۸ ټپیان شوي او ۱۹ نور تښتول شوي. دا د تیر کال د ورته مودې په پرتله یو ډول کمښت ښيي، چې کله ۹ مرستندویه کارکونکي مړه، ۲۷ ټپیان او ۲۰ تښتول شوي وو.

۶۲.	د ۲۰۲۰ کال په لومړی ربع کې د اوسط اوو ورځو په پرتله، ځکه چې خلکو وکولای شوای د لاسرسي وړ نویو سیمو ته سفر وکړي، په فبروري کې د تاوتریخوالي په کچه کې د یوې اونۍ په جریان کې د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو په پایله کې د دوو برابرو څخه زیات ملکي تلفات مستند شوي. د فبروري څخه تر مارچ پورې، ملګرو ملتونو او شریکانو یې ۵.۵ مربع کیلو متره ککړه ځمکه د لوړ تاثیر لرونکو چاودیدونکو توکو څخه پاکه کړې، چې په دې سره ټولټال ۲۸ ټولنو ته ګټه رسوي. شاوخوا ۱۵۶۳۵۶ خلکو، چې ډیری یې راستنیدونکي دي، د ماینونود خطر په تړاو روزنې ترلاسه کړې. په هغه ساحو کې چیرې چې د ماین پاکۍ چارې جریان لري، د کوویډ-۱۹ ناروغۍ سره د مبارزې په خاطر د طبي پرسونلو، امبولانسونو او وسایطو وړاندیز شوی.

۶۳.	د نړیوالو سوداګریزو الوتنو په ځنډیدو او د ځینو داخلي الوتنو په مختل کیدو سره، په اپریل کې د ملګرو ملتونو بشردوستانه خدمتونو په اونۍ کې درې ځله دوحې ته یو نړیوال هوایي پل را منځ ته کړ ترڅو د بشردوستانه چارو د کارکونکو تګ راتګ تسهیل کړي. د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه شي چې مهم بشردوستانه عملیات نه مختل کیږي، د ملګرو ملتونو هوايي بشردوستانه سرویس د څورلکو د ځانګړو خدمتونو په شمول، د داخلي پروازونو چمتوکولو ته دوام ورکړ.

۶۴.	بشری ټولنې د اړتیاوو د چټک تحلیل د ترسره کولو او د ۲۰۲۰ کال بشردوستانه غبرګون پلان د بیا کتلو او ارزولو له لارې د افغانستان د دولت د کوویډ - ۱۹ غبرګون څخه ملاتړ وکړ. په بشری مرستو د اړو کسانو اټکل شوی شمیر د کال په پیل کې د ۹.۴ میلیون کسانو څخه ۱۴ میلیونو ته لوړ شوی. د بشردوستانه چارو شریکان دمګړی د ۱۱.۱ میلیون خلکو لپاره د ژوند ژغورنې د مرستې د چمتو کولو لپاره د ۱.۱ ملیاردو امریکایي ډالرو غوښتنه کوي.

### ۶. له نشه يي توکو سره مبارزه

۶۵.	د مارچ له ۱۵ د اپریل تر ۲۹ پورې، د قانون نافذوونکو چارواکو د نشه يي توکو پر وړاندې ۲۱۷ عملیات ترسره کړي چې په پایله کې یې ۲۹۴ کیلو ګرامه هیروین، ۴۷۰ کیلو ګرامه آپیوم، ۲۴۷۰۴ کیلو ګرامه چرس، ۱۱۱ کیلو ګرامه مفامفتامین، ۷ کیلو ګرامه مورفین، ۷۸ لیټره اسیتیک آنهایډرایډ او ۲۰۰ ګرامه میتادون توکي نیول شوي. د دغو توکو له ضبط سره د دریو ملي پولیسو او د افغان ملي اردو د څلورو پرسونلو په ګډون ۲۵۱ شکمن کسان او ۶۶ نقلیه وسیلې او ۳۰ وسلې هم نیول شوي. د نشه يي توکو د عمل له ملي پلان سره سم، د کورنیو چارو د وزارت په رهبرۍ

د همغږي شویو عملیاتو په پایله کې د کوکنارو ۳۵۵ هکتاره کښت له منځه یوړل شو. د عملیاتو د ترسره کولو پرمهال له نشه یي توکو سره د مبارزې پولیسو یو افسر وژل شوی.

**۷. د ماموریت ملاتړ**

۶۶. د مارچ تر ۳۱ نېټې پورې په ترتیب سره، د ۸ سلنې، ۳ سلنې او ۳ سلنې د منل شویو کچو په پرتله، په یوناما کې د نړیوالو کارکونکو لپاره د تشو پوستونو کچه ۹ سلنه، د داخلي مسلکي افسرانو لپاره ۶ سلنه او د داخلي کارکونکو لپاره ۲ سلنه وه. د نړیوالو کارکونکو لپاره د ۳۷ سلنې، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره د ۴۶ سلنې او د داخلي مسلکي کارکونکو لپاره د ۱۳ سلنې او د داخلي کارکونکو لپاره د ۹ سلنې په درلودلو سره د ښځینه کارکونکو تناسب ټیټ پاته شوی. د جنوري د ۱ او د مارچ د ۳۱ تر منځ، یوناما د سړک له لارې ۱۰۴ ماموریتونه او د هوا له لارې ۱۴ ماموریتونه ترسره کړي او همدارنګه یې د رسیدنې ټولټال ۸۰۰ ماموریتونه ترسره کړي د کومو په جریان کې چې د ولسوالیو استازو د یوناما له ساحوي دفترونو څخه لیدنې کړي.

۶۷. د کوویډ-۱۹ وبا ته په غبرګون کې یوناما په افغانستان کې د خپلو کارمندانو د روغتیا او سلامتیا د خوندي کولو لپاره یو لړ اقدامات خپل کړي په داسې حال کې چې په ټول هیواد کې یې د خورا مهمو پروګرامونو او فعالیتونو ترسره کول جاري ساتلي. د دغې موخې لپاره، ماموریت د کار بدیل تنظیمات تطبیق کړي چې په هیواد کې د نړیوالو کارمندانو او د هغو داخلي کارمندانو په شتون کې چې د مۍ تر ۱۱ نېټې پورې یې د یوناما په دفترونو کې کار ته حاضریدل د پام وړ کموالی رامنځ ته شوی.

**۸. ملاحظات**

۶۸. د ښاغلي غني او ښاغلي عبد الله ترمنځ موافقې هغه اړین عزم او اراده په ډاګه کړه څو د هیواد په ګټه پر سیاسي کړکیچ برلاسي شي. زه هیله لرم چې د جګړې د سوله ییز حل لپاره د رامنځ ته شوی تاریخي فرصت په درک کولو سره، دولت به د جوړ جاړي په پایله کې زیږدلی خوځښت جاري وساتي او د راتلونکو بین الافغاني مذاکراتو په لور به په متحد ډول مخ ته ولاړ شي.

۶۹. د مارچ راهیسې په تاوتریخوالي کې هیښوونکې زیاتوالی لا اوس هم د ولسي وګړو ژوند اخلي چې د دوي ترمنځ ښځې، ماشومان او نو زیږدي کمکیان هم شامل دي. داخلي بېځایه کیدنه، محرومیت او نا امني لا زیات خلک له ګواښ سره مخ کوي. د کوویډ-۱۹ اضافي کړاو ته په کتو، زه یو ځل بیا د اوربند لپاره خپله غوښتنه تکراروم، څو د اغیزمن غبرګون لپاره زمینه برابره شي.

۷۰. په یوه روغتون کې د زیږنتون د ځانګې زړه بګنونکې هدف ګرځونه او په کابل کې د سیکانو پر درمسال برید د تاوتریخوالي پای ته رسولو بیړنۍ اړتیا په ډاګه کړه. پر ولسي وګړو هر ډول برید د منلو نه دی. د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې روغتونونه، طبي مرکزونه او پرسونل له ځانګړې خوندیتوب څخه برخمن دي. څوک چې پر هغوي برید کوي، باید د قانون منګولو ته وسپارل شي.

۷۱. د دولت او طالبانو له خوا د باور جوړونې هڅې له یوه ستر باور او د مستقیمو خبرو اترو لپاره د یوه بنسټ له رامنځ ته کولو سره مرسته کولی شي. هیله لرم چې د بندیانو د خوشې کولو په اړه د دولت او طالب استازو ترمنځ لومړی مخامخ لیدنه وکولی شي لا زیات دوام وکړي، کومې چې د بین الافغاني مذاکراتو د درک لپاره خورا مهمې ګڼل کیږي. مستقیمې خبرې اترې د پایښت لرونکې سوله ییز حل او دایمي اوربند په لور د لارې هوارولو او په هیواد کې د پایښت لرونکې پراختیا د پرمختګ لپاره خورا مهمې دي.

۷۲. د سولې په پروسه کې د افغانستان د تمثیل شوی له سیاسي او ټولنیز تنوع سره د سولې د پایښت لرونکې تر ټولو غوره چانس په یوې پراخې اجماع کې نغښتی، څو په دې سره د نهایي حل د پراخ منلو لپاره بنسټ کیښودل شي. دغه کار د افغان وګړو اندېښنو ته د غږ ورکولو او د دې لپاره اړین دي څو ډاډمن کړای شي چې د ښځو د حقونو په تړاو د لاسته راوړنو په ګډون بشري حقونه او بنسټیزې ازادي ګانې تضمین شوې.

۷۳. زه پر ټولو خواوو غږ کوم څو ډاډمن کړي چې په افغانستان کې ښځې په خونديو ډول خپل غږ پورته کولی شي او په مهم ډول د سولې په پروسه کې ګډون کولی شي. د افغانستان د اسلامي جمهوريت په ۲۱ کسيز مذاکرتي ټيم کې د څلورو ښځو شاملول په دې برخه کې يو څه پرمختګ په ډاګه کوي، او د سولې په چارو کې د دولت د وزارت، او د سولې او پخلاينې د عالي شورا په ګډون د سولې لپاره وده کوونکي داخلي ساختار د ښځو د شاملولو لپاره نور فرصتونه رامنځ ته کوي.

۷۴. د کوويډ-۱۹ خپريدل پر ښځو ويجاړونکې اغيز لري او د هغوي د حقونو او ازادي ګانو په تړاو تر لاسه شوې لاسته راوړنې پر شا تمبوي. د وبا په پايله کې د ښار بنديز رامنځ ته شويو تدابيرو په زيات احتمال سره د کورني تاوتريخوالي کچې لوړې کړې، په داسې حال کې عدالت او حمايتي سيستمونو ته لاس رسی راکم شوی. زيات شمير ښځو د داخلي کارمندانو او لاسي صنايعو د کارګرانو په څير خپلې دندې له لاسه ورکړي او د دوي له خوا په سختۍ سره تر لاسه شوې اقتصادي او ټولنيزه خپلواکۍ د لاسه ورکولو له ګواښ سره مخ دي. ښځې، په ځانګړي ډول له کابل څخه بهر، روغتيايي خدمتونو ته محدود لاس رسی لري او نا متناسب ډول د هيواد له کمزوري روغتيايي سيستم څخه اغيزمنې شوي. زه پر دولت غږ کوم چې ښځې او نجونې د کوويډ-۱۹ د غبرګون په محراق کې واقع کړي. دغه کار له مساوي استازيتوب او پريکړې کولو له څواک سره د رهبرانو په څير د ښځو په ټاکلو سره پيليږي. د ښځو د ساتنې او حمايت لپاره چټکو ګامونو او عدالت ته د لاس رسي په ګډون پراخ رواني ملاتړ او خدمتونو ته اړتيا ده. د لاسته راوړنو د ساتنې او دوام لپاره، زه له ټولو شريکبانو غوښتنه کوم څو ډاډمن کړي چې کوويډ-۱۹ د ښځو، سولې او امنيت په اړه د افغانستان د ملي پلان له تطبيق څخه مرستې او تمرکز نه راګرځوي، په تيره بيا د پريکړې په کولو، سوله او سياسي پروسو کې د ښځو له مهم ګډون څخه.

۷۵. د مدني ټولني فعالين، د بشري حقونو مدافعين، ژورنالستان او د رسنيو کارکوونکي د ټولنې د جوړښت او د هيواد د ادارو د روغتيا لپاره خورا مهم ګڼل کيږي. د سوله ييزو لاريونونو/اعتراضاتو په ګډون له خلکو سره د نظريو شريکول، او د اساسي قانون له مخې بنسټيز حقونو او ازادي ګانې تقويه شوي او هغوي ته نوې مانا ورکړل شوې. د مدني ټولنې او د رسنيو د سکتور له خوا د واک په اړه څيړنې، احتساب او روڼتيا نه يوازې د قانون واکمنۍ ته د دولت ژمنې پياوړې کوي او له اداري فساد سره مبارزه کوي، بلکې همدارنګه د سولې په راتلونکو مذاکراتو کې د افغان ټولنې په ګټه کار کوي. د دغه ډول ادارو لکه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د خورا مهم رول او د هغو نړيوالو تړونونو چې افغانستان يې غړيتوب لري د اهميت په درک کولو سره، زه د هغوي د دوامدارې ساتنې او حمايت غوښتنه کوم.

۷۶. په توقيف ځايونو کې ګڼ ګونه حفظ الصحه، روغتيا او بشري وقار کمزوري کوي او د کويډ-۱۹ د خپريدو د مخنيوي په وړاندې د پام وړ خنډونه رامنځ ته کوي. زه د افغان دولت له خوا د زيات عمر لرونکو، ناروغو، ښځو او ماشومانو او د هغو په ګډون د کوچنيو او نا تاوتريخجنو کړنو په تور محکوم شوي، د لوی شمير توقيفيانو او بنديانو د خوشي کولو هرکلی کوم. زه په دې باور يم چې د يوه خوندي او صحي حراست د ډاډمنولو او د ګڼې ګوڼې د راکمولو په موخه يو چټک او ثابت غبرګون توقيف ځايونو ته د کوويډ-۱۹ د ننوتلو د خطر د مخنيوي او راکمونې لپاره خورا مهم دی.

۷۷. څرنګه چې د کوويډ-۱۹ د خپريدو له امله اړوند بنسټيز ميکانيزمونه تر اضافي فشار لاندې راغلي، په افغانستان کې بشري وضعيت لا اوس هم د ژورې اندېښنې يوه سرچينه ګڼل کيږي. اوبو او روغتيا پالنې ته محدود لاس رسی په دې مانا چې په ميليونونو وګړي پر دغه وايروس له اخته کيدو څخه د خپلو ځانونو د ژغورنې لپاره محدود شمير انتخابونه لري. په يوه داسې موسم کې کله چې بايد د خوړو زيرمې تر ټولې زياتې بشپړې او ډکې وای، هغه اوس هم د شا و خوا ۱۳.۴ ميليونه د هغو وګړو د اړتياوو د پوره کولو لپاره نا کافي دي، څوک چې له ناورين او د خوراکي توکو د ناخونديتوب له بيړنيو کچو سره مخ دي. د هغو وګړو شمير څوک چې د حاصلاتو د راغونډولو په را وروسته مونده کې په سخت ډول د خوړو له ناخونديتوب سره مخ دي، د بيا نويو شويو نړيوالو مرستو او دغه راز د داخلي مشرتابه غوښتنه کوي.

۷۸. زه د افغانستان لپاره د اقتصادي وړاندوينو او د خلکو پر روغتيا او سلامتيا د محروميت او بې کارۍ د اغيزو په اړه سخت اندېښمن يم. اقتصادي نه فعاليت، مخ پر څوړ عوايد او کم شوی مصرف به د ۳۵ ميليونو وګړو زيات شمير کسان، څوک چې لا وار د مخه د ورځې تر ۲ پر کمو امريکايي ډالرو ژوند د بقا پولو ته ټيل وهي. زه د بشري غبرګون

پلان لپاره د دوامدارو نړیوالو مرستو او د افغانستان په اړه د ژمنو د ۲۰۲۰ کال د وزیرانو په سرمشریزه کې د ټولو شریکباڼو له خوا د پیاوړي ګډون/تعامل غوښتنه کوم.

۷۹. د سیمه ییزو هیوادونو رغنده رول په افغانستان او په پراخه کچه د سیمې په هیوادونو کې د ثبات او اقتصادي پراختیا د ډاډمن کولو لپاره خورا مهم دی. سیمه ییزه سوداګري، مرسته او پراخ نښلون د دواړو خواوو په ګټه دي او د افغانستان د لا زیاتې ځان بسایني لپاره خورا مهم ګڼل کیږي. زه د سولې او پیوستون لپاره د افغانستان-پاکستان د عمل پلان له مخې په کابل او اسلام اباد کې د ادارو د دوامداره ګډون او تعامل هرکلی کوم. سربیره پر دې، زه د سولې پروسې لپاره د افغانانو په مالکیت او مشرۍ د سیمه ییزو شریکباڼو د ګډ ملاتړ قدرداني کوم.

۸۰. زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکونکو او زما د ځانګړې استازې، دیبورا لاینز څخه، تر ننګونو ډکو شرایطو لاندې د هغوي د کار چې موخه یې د افغانستان د حکومت او خلکو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو سرته رسول دي، مننه کوم.